مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالوهاب باور

۲۰۲۶/۰۷/۰۸

# مـهيې لـټـوه!

هسې بـه جـهـان لـټـوې مـه يې لـټـوه!
دلتـه چـې انسان لـټـوې مه يې لـټـوه!

ورکو پسې مـه ګرځه ډیـوژنـه لېونیه!
ګـټـه کـې تـاوان لـټـوې مـه يې لـټـوه!

دا خلک د خپلو هوسـونـو رنځوران دي
رنځ کې چې درمان لټوې مه يې لـټـوه!

لاړ شه چېرته بره لاړ شه پورته ملائېکو ته
جهـل کې ايمـان لـټـوې مـه يې لـټـوه

ته د بوالهوس غوبل نه مینه لاهوتي غواړې!
ځمکه کې اسمان لـټـوې مـه يې لـټـوه!

چېرته دا هوښیار دور باوره چېرته ستا جنون!؟
تـه چـې پـکـې ځـان لـټـوې مـه يې لـټـوه!


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ